له هغه څه نه چې ما تاسو ته منع کړي ياست، له هغې څخه ډډه وکړئ او په هغه څه مې چې درته امر کړی، څومره چې کولی شئ هغه پر ځای کړئ، ځکه چې ستاسو څخه مخکې خلک د دوی د ډيرو پوښتنو او د انبياوو په وړاندې د دوی د مخالفت له امله هلاک شوي دي.

له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی فرمايي: له رسول الله - صلی الله عليه وسلم - څخه مې اوريدلي دي چې فرمايل يې:« له هغه څه نه چې ما تاسو ته منع کړي ياست، له هغې څخه ډډه وکړئ او په هغه څه مې چې درته امر کړی، څومره چې کولی شئ هغه پر ځای کړئ، ځکه چې ستاسو څخه مخکې خلک د دوی د ډيرو پوښتنو او د انبياوو په وړاندې د دوی د مخالفت له امله هلاک شوي دي».

[(صحيح] [متفق عليه دی (بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله - صلی الله عليه وسلم - مونږ ته لارښوونه کړې چې کله هغه مونږ له کوم کار څخه منع کړو، نو مونږ بايد له استثنا پرته له هغه څخه ډډه وکړو، او که هغه مونږ ته د يو کار امر وکړي، نو بايد چې د توان په اندازه پرې عمل وکړو. بيا يې مونږ ته خبرداری راکړ تر څو د پخوانيو امتونو په څير نه شو، چې هغوی د - خپلو پغمبرانو - په وړاندې د مخالفت سره سره له هغوی ډيرې پوښتنې کولې، نو دوی ته الله - تعالی- په بېلابيل ډول هلاکولو او ويجاړولو سره سزا ورکړه، نو مونږ بايد د هغوی په څير نه شو، تر څو د هغوی په څير هلاک نه شو.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4725